## ډیری پوښتل کیدونکي پوښتني – د تولني لپاره

**د اړیکي کارت څه شی دی؟**
د اړيکي کارت يوه نوې سرچينه ده چي پوليس او د محافظتي خدماتو افسران يې د ټولني غړو ته د ملاتړ خدماتو په اړه د خپل تفصيلاتو او معلوماتو وړاندي کولو لپاره کارولی شي.

**په کارت کي کوم معلومات شامل دي؟**
- د پوليسو يا د محافظتي خدماتو افسر نوم، کاري ساحه، نيټه او وخت
- د جرم قربانيانو د مرستي ليکي، ژباړي او د ژباړونکي خدماتو ته د لاسرسي څرنګوالی
- ستاسي ترلاسه کيدونکي خدمت په اړه د ستاينې يا شکايت وړاندې کولو څرنګوالی.

**زه په کومو شرايطو کي د اړيکي کارت ترلاسه کووم؟**
پوليس او د محافظتي خدماتو افسران کولی شي د اړيکي کارت تاسي ته د دې معلوماتو درکولو لپاره استعمال کړي چي تاسي د چا سره وغږېږئ، کله دا کار وشي او څه شي پورې تړلی دی. هغوی پکي داسي معلومات هم شاملولی شي چي تاسي سره د نورو پوښتنو او ګرويګنو يا ملاتړ په برخه کي مرسته وکړي. د مثال په توګه: ممکن تاسي د يوه جرم شاهد اوسئ يا قرباني اوسئ او وروسته د پيښي په اړه پوليسو يا محافظتي خدماتو افسر ته نور تفصيلات ورکړئ.

**په کومو شرايطو کي زه د پوليس يا د محافظتي خدماتو افسرانو څخه د هغوی د اړيکي تفصيلاتو غوښتنه کولی شم؟**
که چيري پوليس يا د محافظتي خدماتو افسر ستاسي د نوم او پتي پوښتنه وکړي، نو تاسي هم حق لرئ چي د هغوی د تفصيلاتو پوښتنه وکړئ. تاسي کولی شئ د هغوی څخه د هغوی د نوم، د هغوی د رتبې او د پوليسو هغه حوزې په اړه پوښتنه وکړئ چيري چي هغوی کار کوي. تاسي په تحريري ډول د دې تفصيلاتو غوښتنه کولی شئ. د وضعيت په پام کي نيولو سره پوليس د خپلو تفصيلاتو ليکلو لپاره د اړيکي کارت کاروي. د پوليسو سره غږيدو په اړه نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د دې ويب پاڼې څخه ليدنه وکړئ:

[https://www.legalaid.vic.gov.au/sites/www.legalaid.vic.gov.au/files/vla-resource-police-powers-your-rights-in-victoria.pdf](https://www.legalaid.vic.gov.au/sites/www.legalaid.vic.gov.au/files/vla-resource-police-powers-your-rights-in-victoria.pdf)

**زه بايد څه وکړم که چيري زه د اړيکي کارت ترلاسه کړم؟**
د اړيکي کارت د ويکټوريا پوليسو سره ستاسي د راشه درشه ريکارډ دی. دا يو قانوني سند ندی او تاسي اړ نه يې چي ساتنه يې وکړئ.

**ويکټوريا پوليس ولې د اړيکي کارت معرفي کوي؟**
د ويکټوريا پوليس د شفاف او حساب ورکونکي پوليسو چارو ته د خپلې ژمنتيا لپاره د اړيکي کارت معرفي کوي. دا کارت پوليسو او د محافظتي خدماتو افسرانو ته يوه مسلکي سرچينه برابروي چي له مخي يې د ټولني د غړو سره د پوليسو د راشه درشه ريکارډ وړاندې کوي، د هغوی سره مرسته کوي چي خدماتو ته لاسرسی پيدا کړي، نورې پوښتني وکړي يا پوليسو ته معلومات ورکړي.

**د اړيکي کارت جوړولو لپاره کومي مشورې شوي دي؟**
د ويکټوريا پوليس د ټولني شريکانو، د پوليس افسرانو او د محافظتي خدماتو افسرانو سره غږيدلي ترڅو پدې پوهه شي چي د پوليسو او د ټولني د غړو ترمينځ راشه درشه څنګه ښه کيدی شي. دې شريکانو په کارت کي د شامل کيدونکي معلوماتو څرنګوالي په اړه فکر کولو، د کارت د ډيزاين ملاحظاتو او په ټولنه کي د پوهاوي ډيرولو په برخه کي مرسته کړې ده.